بسم الله الرحمن الرحيم

# د ډاکترې عافيې صديقي ناحل شوې قضيه

## (ژباړه)

زموږ د مسلمانې خور ډاکترې، د عصابو د برخې متخصصې او ساينس پوهې عافيې صديقي ټکان ورکوونکې قضيه؛ هغه څوک چې په امريکا کې د «ترهګرۍ پر وړاندې جګړې» د پوسترې په توګه اعلان شوه؛ دا هغه څه دي چې په وروستيو کلونو کې د امريکا د وحشت تر ټولو ښکاره بېلګه په ډاګه کوي.

عافيه په ۲۰۰۳م، کال د مشرف د حکومت په وخت کې د پاکستان د استخباراتو (ای. اېس. ای) له لوري وتښتول شوه او وروسته امريکايي چارواکو ته وسپارل شوه، څو د بګرام په بدنومي او رسوا زندان کې وساتل شي. د هغې درې ځوان زامن هم له کلونو راهيسې ورک دي او داسې ويل شوي، چې هغوی هم بنديان دي؛ خو د عافيې د نوي زيږېدلي ماشوم د زيږېدنې په اړه چې چېرته دی، معلومات نشته.

عافيه په نيويارک ښار کې د سپټمبر مياشتې د ۱۱مې، له پېښې سره د تړاو په تور نيول شوې ده او د دې مسالې د شکمن تور له امله تر نيولو وروسته د وحشت کړيو ته لوېدلې، چې تر نن پورې يې زغمي. د «ايوان ريلي» په نوم بريټانوي ژورنالېستې چې د عافيې د اوسېدو ځای يې معلوم کړ او د هغې په اړه يې څېړنه وکړه، هغه يې تر ټولو مظلومه مېرمنه وبلله. هغې عافيه د بګرام په وحشت ناک زندان کې پيدا کړه. عافيې ته د پينځو کلونو لپاره په دې زندان کې سخته شکنجه ورکړل شوې ده. نوموړې له هغو تېريو او شکنجو څخه سخته ځورېده، چې په همدې موده کې يې ليدلي وو.

په بګرام زندان کې د اوږدې مودې لپاره د هغې پر زنداني کېدو يې بسنه ونه کړه، بلکې عافيه په امريکا کې هم له سترې ازموينې او تور سره مخ شوه. په دې اړه چې هغې له القاعده ډلې سره په

لوړه کچه اړیکې درلودې، هېڅ شواهد نشته او نه هم پیدا شوي دي. د هغې د نیولو قضیه په نړیواله کچه او د احساساتو د یوې لویې څپې په توګه وغندل شوه او  د عافیې نیول کېدل د امریکا وحشت او ترهګري ښیي.

زموږ خور عافیه صدیقي اوس په ۸٦ کاله بند محکومه شوې، هېڅ باور نه کېږي او په تکزاس ایالت کې د (ایف. ایم. سي) په ستر زندان کې زنداني ده. د دغه امر په ښکاره کولو سره، ټولو مفسرینو ته ښکاره ده، چې د هغې له لوري د جنایت ترسره کولو په اړه هېڅ شواهد نشته او هغه ځورونه چې د امریکا حکومت هغې ته ورکړه، د نورو کسانو د چوپتیا لپاره یوه نښه وه. له بده مرغه چې ځینې مسلمانان په عراق او افغانستان کې د امریکا د هغې ناروا جګړې پیروي کوي، چې د دغو هېوادونو پر اوسېدونکو یې ور تپلې ده.

د امریکا د پخواني ولسمشر «بوش» د حکومت ناوړه پلان په وروستي حکومت کې هم پلی شو. دې اوږدې جګړې دوام وکړ، څو په دې سره د اسلام پراختیا شنډه شي او مسلمانان په نړیواله کچه ډاړه کړي، چې له متحده ایالاتونو سره د عافیې قضیه، کوم احساساتي اړخ نه لري. د «کیچ او جفک» په نوم بریټانیایی خیریه موسیسې ډاډ ځرګند کړی، چې عافیې په همدې موده کې یو وکیل درلود او د هغې دوسیه یې پیدا کړې ده. همدارنګه د هغې له کورنۍ سره یې اړیکه درلوده او د عافیې په اړه په نړیواله کچه خبر او د هغې په اړه اندېښمن وو.

د عافیې په اړه د خبرتیا لپاره تر ډېرو ترسره شوو هڅو وروسته چې په انفرادي ډول ترسره شوي، عافیه اوس هم د تکزاس په زندان کې د بې هوښۍ په حال کې ژوند کوي. په یو محدود ځای کې د کلونو لپاره ساتل شوې او بندي شوې ده، ډېبول شوې او په ډېرو ځورونو او شکنجو سره لېونتوب ته رسېدلې ده. همدارنګه پر نوموړې تېره میاشت د همغه ځای د یو وحشي له لوري برید شوی و، چا چې د هغې پر مخ د کهوې جوش اوبه ور اچولې وې. اوس عافیه د دغو ظلمونو له امله پخپلو پښو له تګه لوېدلې ده.

ډاکتره عافیه صدیقي تر ټولو صادقه او مسلمانه مېرمن ده. یوه ځانګړې مور او غوره دعوتګره ده. نوموړې پخپل مسلک کې ښه رسېدلې او د ټولو لپاره یوه ښه بېګله ده، چې نوموړې پېژني. دا مېرمن د خپلو مسوولیتونو ښه ترسره کوونکې او یوه پرهېزګاره مسلمانه وه، پر دې سربېره نوموړې اسلام ته ښه صادقه او په اسلامي ارزښتونو پوه وه. اوسمهال نوموړې د اسلامي خاورو د رهبرانو له لوري په بشپړه ډول هېره شوې، هغه کسانو چې د هغې د راخوشي کېدو لپاره یې هېڅ هڅې نه دي کړي.

د مسلمانانو واکمنان او د پاکستان حکومت داسې ډیپلوماټیک مسایل لري، چې سیاسي او نظامي ملاتړ یې ګواښلی شي او دوی د افغانستان او پاکستان په سیمه کې امریکا ته ځای ورکوي. پر دې ټولو سربېره هر ملت دا امتیاز لري، چې د خپلو بندیانو د خوشي کېدو غوښتنه وکړي. همدارنګه د نړیوالو قوانینو له مخې د بندیانو خوشي کېدل او د هغوی حق  تامین کړي، چې په ټولنه کې شتون لري او ورکړل شوی دی. یو څه چې د یوه هېواد رښتینولي او صداقت ښیي، هغه رهبري ده چې د خپلو خلکو ساتنه وکړي او امنیت یې تامین کړي.

نو ولې د اسلامي خاورو حکومتونه د غرب پر وړاندې بې وسه دي؟ کله به له غرب څخه د دوی وېره له الله سبحانه وتعالی څخه په وېره بدل شي؟ ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایي:

**«إنّ النَّاسَ إِذا رَأوا الظّالِمَ فلَمْ يأْخذُوا على يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ الله بِعِقابٍ منهُ»**

***ژباړه:*** *کله چې خلک پر کوم چا ظلم ویني، خو د هغه دفاع نه کوي، د دې پایله به دا شي چې الله سبحانه وتعالی دوی ټولو ته جزا ورکړي.*

پر همدغه اساس، اوسمهال مسلمان بندیان، ټول نارینه او ښځینه له ظلم او بې عدالتۍ سره مخ دي او د یوې سپېڅلې اسلامي واکمنۍ راګرځېدو ته په تمه دي. نو د رسول الله صلی اله علیه وسلم پر تګلاره اسلامي خلافت به د الله سبحانه وتعالی د کلام اړوند ټولو مسلمانانو ته خپل حقونه ورکړي. هغه وخت به داسې یوه رهبري وي، چې ټول ورته لېوال دي. اسلامي شریعت

پوځونو ته امر کوي، چې ظالمانو ته خپل زور وروښيي، څو په دې سره زموږ بنديان ازاد شي او هغه څه ترسره کړي چې ورته اړتيا ده. الله سبحانه وتعالی په قران کريم کې فرمايي:

**﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا﴾** [نساء: ۷۵]

***ژباړه:*** *ولې د الله سبحانه وتعالی په لاره او د هغو نارينه، ښځينه او ماشومانو لپاره جګړه نه کوئ چې د ظالمانو له خوا کمزوري شوي او ظلم پرې کېږي. همغه ظلم ليدونکي کسان چې وايي: اې الله سبحانه وتعالی! موږ له دې ښاره (مکې) څخه چې ځښتنان يې ظالمان دي، وباسه. ستا له طرفه موږ ته يو سرپرست وټاکه او ستا له خوا موږ ته يو مرسته کوونکی راولېږه.*

نو پر همدغه اساس، دا بايد د نړيوال او ستر امت غږ وي چې په قصرونو کې قدرت په دې ډول دی، يعنې خلافت ته دعوت کړل. هغه اسلامي حکومت چې په هغه کې زموږ ټولو دنده د اسلام په اړه د الله سبحانه وتعالی اطاعت کړل دي او دغه دين په پياوړي ډول رامنځته کوي. دا نظام ډېر بې ګناه خلک ژغوري او ډېر ستر وياړ دی، چې د پانګوالۍ او امپرياليستۍ ايډيولوژۍ شخصي ګټې له ګواښ سره مخ کوي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**ليکواله: مليحه «فهم الدين»**

**ژباړه: بهير «وياړ»**

۱۴۴۳هـ.ق، د صفر مياشتې ۱۸مه

۲۰۲۱م، د سپټمبر ۲۵مه